Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دويم کال - ۳۵مه ګڼه | پرله‌پسې ۴۹مه ګڼه
نېټه: ۱۴۰۴/۹/۲۰



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعاليتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستيو اقتصادي فعاليتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د کابل او تهران ترمنځ د درملو او طبي وسايلو د توليد برخه کې د همکارۍ پراختيا
۲- د ماليې وزارت او ډي پي ورلډ شرکت ترمنځ د پانګونې شرطپاڼې لاسليک
۳- د ټرانسپورټ وزارت وايي، د اسانتياوو رامنځته کولو له پاره ۵۰ پروژې تر کار لاندې دي

# د کابل او تهران ترمنځ د درملو او طبي وسایلو د تولید برخه کې د همکارۍ پراختیا

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د لیندۍ په ۱۲مه نېټه د ایران د روغتیا وزارت مرستیال او د خوړو او درملو اداري له رییس مهدي پیرصالحي او په افغانستان کې د ایران له سفیرعلي رضا بیکدلي سره ولیدل.

په دې لیدنه کې ایراني مسوولینو له افغانستان سره د درملو او طبي وسایلو د تولید او افغانستان ته یې د صادراتو د زیاتوالي په برخه کې خپلې اوږد مهالي همکارۍ ته چمتووالی وښود. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د افغانستان اسلامي امارت له لوري د همکارۍ او ګډ کار ډاډ ورکړ. په وروستیو کې د افغانستان او ایران ترمنځ سوداګرۍ پراختیا موندلې ده. سره له دې چې پاکستان سره سوداګري ولاړه ده، خو په افغانستان کې د درملو او نورو طبي وسایلو بېې لوړې شوې نه دي. د دې یو عمده لامل په هېواد کې دننه د درملو او ځینو طبي وسایلو تولید دی او بل عمده لامل یې له ایران او نورو هېوادونو سره د افغانستان ښو سوداګریزو اړیکو لرل دي. په هېواد کې په مختلفو برخو کې لسګونه ډوله درمل تولیدېږي، چې ښه کیفیت هم لري، خو د دې له پاره چې د درملو اقسام ډېر دي او ټول په افغانستان کې نه تولیدېږي، نو اړینه وه چې له ایران او نورو هېوادونو باکیفیته دوا وارده شي. د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره سیاست پر بنسټ له ټولو هېوادونو سره مثبتې سوداګریزې اړیکې غواړي، خو د هېڅ هېواد بې کیفیته او بې اثره درملو او نورو توکو ته د واردېدو اجازه نه ورکوي. همدا لامل دی چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال څو ورځې وړاندې په خپلو څرګندونو کې له پاکستانه د درملو واردول بند کړل او له سوداګرو یې وغوښتل چې هېواد ته نور پاکستاني درمل وارد نه کړي.



# د مالیې وزارت او ډي پي ورلډ شرکت ترمنځ د پانګونې شرطپاڼې لاسلیک

د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت او ډي پي ورلډ شرکت ترمنځ د ۱۴۰۴ کال د لیندۍ په ۱۶مه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت کې د پانګونې شرطپاڼه لاسلیک شوه. د اقتصادي معاونیت د دفتر عمومي رییس مفتي عبدالله عزام غوندې ته په خپلو خبرو کې وویل، دغه شرطپاڼه هغو تړونونو او بهرنۍ پانګونې ته لاره هواروي، چې له مخې به یې د هېواد سوداګریز بندرونه عصري او په نوي ټکنالوژۍ سمبال شي. د شرطپاڼې په رڼا کې به راتلونکي تړونونه د دې ورتیا ولري، چې په اړوندو بندرونو کې د سوداګریزو توکو د انتقال له پاره تاسیسات پراخ، عملیاتي او مدیریتي چارې به د پرمختللو تجهیزاتو پر مټ ترسره او ټول فعالیتونه به د نړیوالو معیارونو مطابق ترسره کېږي. د افغانستان اسلامي امارت په کلک هوډ او ستراتیژیک لید سره تل هڅه کوي چې هېواد د مرکزي اسیا او جنوبي اسیا ترمنځ د سوداګرۍ په څلورلارې بدل کړي.



يادي سترې موخې ته د رسېدو لپاره د اسلامي امارت د ريل پټلۍ او لويو لارو او اړونده نښلونکو زيربناوو جوړول په کار اچولي او په اړوندو برخو کې پانګونه او رغونه د پراختيا په حال کې ده.

د افغانستان بندرونو کې پانګونه او عصري کول به د هېواد په وارداتو، صادراتو او ټرانزيټ په چارو کې د پام وړ اسانتياوې رامنځ ته، د سوداګريزو توکو جريان به چټک او اموال به بې له کوم خنډ او ځنډ څخه نړيوالو بازارونو ته رسېږي. ډي پي ورلډ شرکت د نړيوالو بندرونو په مديريت کې د سترې تجربې څښتن دی. د ياد شرکت له تجربې په ګټې اخيستنې سره به افغان توکي د نړيوالو معيارونو مطابق عرضه شي او د سيالۍ وړتيا به يې نوره هم زياته شي.

د دې شرطپاڼې پر بنسټ به په لومړي پړاو کې د افغانستان او ازبېکستان سره په پوله د حيرتان بندر او دويم پړاو کې به د افغانستان او پاکستان د فرضي کرښې پر سرد تورخم بندر په عصري وسايلو سمبال او زيربنايي چارې به يې د نړيوالو معيارونو سره سم عياري او پرمختللې شي او ورپسې به دا لړۍ نورو لوژستيکي ليکو، اقتصادي زونونو او ملي پروژو ته پراختيا ومومي.

اسلامي امارت باور لري چې دا پانګونه به هېواد په ستر اقتصادي او ټرانزيټي مرکز بدل او د دوامداره اقتصادي ثبات نوې دروازې به پرانېزي.

## د ترانسپورټ وزارت وايي، د اسانتياوو رامنځته کولو له پاره ۵۰ پروژې ترکار لاندې دي

د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت مسوولينو ويلي، په تېرو څلور کلونو کې يې د ترانسپورټ سکټور د عصري کولو او اسانتياوو رامنځته کولو له پاره لازم ګامونه اخيستي دي.

اوسمهال په هېواد کې پنځه نړيوال هوايي ډګرونه شته، چې ۱۵ هېوادونو ته ترې مستقيم پروازونه کېږي او د سيمې او نړۍ له هېوادونو سره د افغانستان اړيکو ټينګولو کې مهم رول لوبوي.

سربېره پردې په هېواد کې ۲۲ نور داخلي هوايي ډګرونه هم فعال دي، چې د کورنيو پروازونو له پاره ترې استفاده کېږي او د هېوادوالو ستونزې هواروي.

د مسوولينو په وينا، په هوايي سکټور کې له پنځوسو ډېرې پروژې ترکار لاندې دي، چې ځينې برخې يې تکميل شوې دي.

د ترانسپورټ سکټور د هېواد په اقتصادي وده کې مهم ځای لري. د افغانستان اسلامي امارت دغه سکټور ته ډېره پاملرنه کړې او له تحول وروسته يې د هېواد هوايي ډګرونو کې ډېرې برخې ورغولې او ځينې يې نوې ودانې کړې. د بېلګې په ډول په کابل نړيوال هوايي ډګر کې يې د نوې انتظارخونې چارې پيل کړې دي، چې چارې يې روانې دي او لنډ وخت کې به ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.

